# Pashto modern ghazal and Critical review of its significant progress

# د پښتو د عصري غزلې د ادبي معيارونو تنقيدي جائزه

MuhammadZakirZiaratwal*

## ABSTRACT:

Ghazal is one of the most popular genres of Pashto poetry. Many poets to express romantic feelings have used Ghazal. Pashto Ghazals are written more than any other poetry in modern period. In the last two decades, Pashto ghazal has made significant progress both technically and thematically. What are the technical and thematic changes in Pashto ghazals? How has Pashto poetry progressed technically and thematically? In this regard, the evolution of Pashto ghazal has been reviewed. The main purpose of this article is to reflect the changing nature of modern ghazals. This research article critically examines the important changes that have taken place in modern Pashto Ghazal.

**Key words: Ghazal, Romantic feelings, Thematically Change, Genres**

نقادان زیاتره د شعر دوه اړخونه څیړي یو دا چې شعر څنګه لیکل شوی دی؟ او دویم دا چې شعر کښې څهٔ لیکل شوي دي؟ و دغه ته پوهان د شعر فني اړخ او فکري اړخ نومونه هم کاروي.

لاکن که چېرې د شعر یو اړخ کمزوری راڅخه پاته شو هغه بل اړخ یې ځوک په "تورو اوبو هم نهٔ کوي" که فني اړخ مو ور کمزوری کړو بیا خو مو هغه ته د نثر جامه ور واغوستله تاسې کولی شئ د "نثري شعر" نوم ورکړئ،

خو که چېرې یې فکري اړخ درنه کمزوری پاته شو بیا خو زما په خیال نهٔ شعر پاته شو او نهٔ نثر او بل هر نوم چې ورکوئ خو د ادب ټوټه یې نشئ بللی، لکه حمزه شینواري چې د فارسۍ یو منظوم کلام پښتو ته راژباړلی او ورسره یې لیکلي چې دغه ته مونږ د شعر نه نهٔ شو وئیلی هغه منظوم کلام دا دی

---

* Ph.D scholar, Acadmy of Pashto, University of Peshawar, KPK

ستا سترګې دي د دواړو وروځو لاندې
غاښونه دې په خولۀ کښې لاندې باندې

اوس دغه پاسه منظوم کلام ته که ځير شو په فني توګه ېبخي په ځان کښې پورا شعر دی هيڅ نيمګړتيا نۀ لري هر څۀ يې سم دي ولې په فکري لحاظ بېخي شيل دی او ځکه دغه ته موږ د شعر نه نۀ شو وئيلی د دې معنا دا شوه چې د شاعرۍ اول او تر ټولو اړينه غوښتنه دا ده چې "زۀ دې ښا وليکلی شم او ما کښې دې ښۀ وليکل شي"(1).

دلته موږ د شاعرۍ نه بلکې د شاعرۍ په يو صنف غزل باندې بحث کوو "غزل يو خوږ نوم دی، يو ښکلی نوم دی، يو روح بخښونکی او روح خوښونکی نوم دی، او يو داسې نوم دی چې د شعر زړينې ونې، يوه ډېره حسينه، رنګينه او مهينه څانګه د سړي په ذهن کښې مجسمه کړي او ذوق ته يو ځانګړی معنوي خوند او کېف ورېخښي(2).

عموماً شاعرانو په خپلو غزلونو کښې د مشعوقې د نازکتيا خبرې کړې دي او په نړۍ کښې يې تر ټولو نازک څيز خپله مشعوقه بللې ده لاکن ما خو تر اوسه پورې د غزل نه بل نازک شی نۀ دی ليدلی هسې خو د شاعرۍ هر صنف نازکتيا لري ولې غزل د شاعرۍ تر ګردو نازولی صنف دی غزل نازک او نيازبين هم دی، او مغروره او سرکشه هم، نخرې هم لري، ناز او ادا هم، يعني غزل بېخي د مشعوقې خويونه خپل کړي دي او مشعوقې خو د عاشقانو نه خامخا څۀ نه څۀ غوښتنې کوي همدا رنګه غزل هم د خپلو عاشقانو نه غوښتنه لري ما مخکښې يادونه وکړه چې غزل د نازک او نيازبين سره سره مغروره او سرکشه هم دی او دی خپل غرور چېرې هم د خاورو سره خاورې کول نۀ غواړي ځکه د خپل مئين نه غوښتنې هم لري غوښتنې نه بلکې غزل و خپلو ليکونکيو ته دا امر کوي چې:

"ما سره به سپور او ستغ نۀ غږېږې پستې او مهينې خبرې به راسره کوې، په ساده، پسته او کليواله لهجه کښې به قيصې پيصې راته کوې، زما په وړاندې به سپين سترګي نۀ کوې بلکې په ډېر ادب سره په اشارو او کنايو کښې به مې پوهوې، نېغې نېغې غوښتنې به نۀ رانه کوې که څۀ دې غوښتل په تشبيحاتو او استعاراتو کښې به يې رانه غواړې، ما کښې به منهوس ټکي نۀ کاروې نرم او زړۀ راښکونکي اصطلاحات به راپکښې ځای کوې، په يوه موضوع به مې سر نۀ

راخوروې نوې نوې موضوعګانې به راته شيرې، د روايتي انداز سره به جديد طرز هم خپلوې بيا به څۀ نه څۀ زما حق ور ادا کړې"

د شعر په غوښتنو باندې خوشحال خان خټک هم ډېر ښۀ غزل نما نظم ليکلی دی چې يو څو شعرونه يې دلته په راوړلو او لوستلو ارزي:

لکه غشي لره بويه تير انداز
هسې شعر لره بويه سحر ساز
همېشه د زړۀ په لاس تله د وزن
زيات و کم د وزن يو توری غماز
په تور اس د حقيقت ناوې سپره کا
په سپين مخ پلو نيولی د مجاز
د مضمون د نزاکت غمزه ورڅخه
سر تر پايه درست صورت سره يو راز"(3)

که د غزل په تاريخ خبره کوو بيا به دا و وايو چې انسان ډېر حسن پرسته دی، دی په هر څۀ کښې ښکلا لټوي او هر ځای د ښکلا په لټون کښې ګرځي يوازې انسان نه بلکې د انسان خدای هم حسن پرسته دی معنا دا چې انسان قدرتي حسن پرسته پيدا کړی شوی دی، چې انسان ښکلا ليدله بيا ورو ورو يې ښکلا پېژندله او وروسته يې د دې ضرورت احساس هم وکړ چې ښکلا بايد وستايله شي او د ښکلا قدر وکړی شي شايد چې دا د ښکلو غوښتنه هم وه چې زما ښکلا دې وستايله شي، او د ښکلا د پېژندنې او ستاينې د ضرورت نه شايد چې شاعري په وجود کښې راغله د ښکلا ستاينه چې د شاعرۍ نورو صنفونو پورا نۀ کړی شوه بيا د عربو د تشبيب نه غزل راوزېږېدۀ په دې اړه حمزه شينواري داسې ګويا دی:

"شاعري د انسان په خټه کښې اښکلې شوې ده او د ابتدا نه د هغه سره ملګرې راغلې ده خو څومره څومره چې انسان ارتقا موندله هومره هومره يې د "ذوق جمال" حس ترقي کوله او هم د دې سره د هغۀ شاعرۍ هم نوي اړخونه بدلول ظاهره ده چې ابتدايي انسان ته به د ټولو نه اول انساني ښکلا مخامخ وه او د هغۀ شاعرانه جذبه به ارومرو د ښکلا نه متاثره شوې وه او د هغې تعريف به يې بيان کړی وو ځکه چې د هغۀ په مخکښې د ژوند نور اړخونه لا نۀ وو موجود نو هم د

دې نه د غزل ابتدا وشوه او هم دغه غزل د حسن او ښکلا په ترجمانۍ کښې بنيادي حېثيت لري"(4).

د غزل مثال د ښار د هغې کوڅې دی چې په هغه کښې ګڼ کورونه شتون لري او د ټولو کورونو څنډې په يو بل کښې سره لګېدلې وي خو د دغه کورونو وګړي په خپله کښې هيڅ پېژندګلوی نۀ سره لري دوی د يو بل کلي وال خو وي خو د يو بل نه يې طور طريقې، رواجونه، دستورونه، روايات او هر څۀ سره بيل وي د يو کور خلق د يو وطن وي او د بل کور خلق د بل وطن، همداسې غزل هم دی چې د هر شعر موضوع يې ځان ته بېخي بدله وي، او ځکه خو غزل تر نظم ليکلو ګران کار دی نظم د يوۀ فکر، نظر او موضوع لاندې ليکۀ شي لاکن د غزل هر شعر ځان ته يو نظم وي او دا جوته خبره ده چې د نظم په مقابل کښې به غزل ډېر وخت اخلي او ځکه خو مغربي شاعرانو غزل کړلی دی او ځکه يې ليکلی هم نۀ دی چې دوی د غزل غوښتنې نۀ شوې پورا کولی او د وخت د کمښت له وجې يې اول اذاد نظم او اوس نثري نظم ليکلو باندې پېل وکړ.

خو د مشرقي شاعرانو سره بيا بېخي وخت زيات وو او شايد په همدغه وجه يې غزل ته ډېر تود هرکلی و وايۀ او غزل ته يې د شاعرۍ تر ټولو صنفونو زيات اهميت او توجو ورکړه.

او له دغه مشرق څخه پښتانۀ هم دي او د پښتنو دا خوبي ده چې څۀ چې د دوی په لاس راشي له هغې پښتون جوړ کړي او که چېرې يې پښتون نشو ترې جوړولی بيا يې داسې پرېږدي تۀ به وايې هډو دوی پېژندو نه، پښتنو ته غزل راغلی دی د غزل هر کلی يې کړی دی خو غزل ته يې د فارسۍ يا د عربۍ جامه نۀ ده ور اغوستلې بلکې خپل ګڼ خت يې ور اغوستلی دی او ګډولی يې دی اتڼ يې ورسره کړی دی.

پښتو د غزل له پلوه ډېره شتمنه ده او کلاسيکي شاعرانو خو بېخي د غزل عبادت کړی دی او رښتيا خبره دا ده چې دوی غزل کښې نوو نوو موضوعاتو ته ځای ورکړو او د غزل هره تشه يې ور ډکه کړه د ښځې سره خبرې يې پکښې وکړې شونډې، سترګې، زلفې يې پکښې وستايلې خو د دې سره سره هغه د انديش شمس القمر خبره چې د غزل نه يې سړی جوړ کړو:

اوس به د وخت د کار خبرې کوي
ملګرو! مونږ د کار سړی کۀ غزل "(5)

غزل چې پښتو ته راتلو د کار خبرې يې شروع کړې د پښتو غزل ابتدا روښانيانو په نهمه هجري پېړۍ کښې وکړه چې د دوی د ژوند مقصد په پښتنو کښې د پيروښان تعليمات خورول وو او غزل کښې يې هغه تعليمات خوارۀ کړل او په ډېره ښۀ طريقه سره يې خوارۀ کړل، يعني دوی خپله نظريه غزل ته او خپل غزل يې نظريه ته وقف کړ، تاسې اوس اندازه وکړئ چې شروع يې چې د کار د خبرو نه شوې وي هغه به بيا چې مخکښې تللی وي څومره د کار خبرې به يې کړې وي؟

د پښتو غزل د موضوع په اړه سليم راز صاب داسې ليکي چې:

"هر څو که د پښتو قديم او کلاسيکي غزل د فارسۍ يو روايتي انداز لري ولې خپل انفراديت يې قايم ساتلی دی د پښتني ژوند او معاشرتي قدرونو ترجمان او عکاس دی د خپلې خاورې خوشبويي او د پښتني مزاج ګرمي پکښې شامله ده ځکه د نورو ژبو په نسبت پکښې زيات حرارت او حرکت موجود دی او د سکوت او جمود په ځای يې د ژوند د هنګامو او هلوځلو په عکاسۍ د خپل وجود په رګونو کښې وينه توده او تونده ساتلې ده"(6).

د پښتو غزل د روايت په اړه د قلندر مومند صاحب دا خبره د کاڼي کرښه ده چې

"د پښتو غزل مرزا شروع کړی، خوشحال بابا پوخ کړی، رحمان بابا مقبول کړی او عبدالحميد بابا رنګين کړی دی"(7)..

د پښتو ژبې په غزل کښې تقريباً هره موضوع څېړل شوې ده او د پښتو غزل هم د هرې موضوع زغملو توان درلودلی دی د روښانيانو تصوف يې زغملی، د خوشحال مېړانه، د رحمان عشق، د حميد امردپرستي، د شېدا پېچدګي، د علي خان اصطلاحات. او جديد دور کښې يې د حمزه پښتونولي، د قلندر نظريه، د الفت سپېڅلتيا، د اندېش قامپرستي، د ګران نغمې، د سليم رندتوب، د طوفان باچاخاني، د خيبر غرور، د خاطر شوخي، د اسرار غوښتنې، د سائيل ژړا ،د سعيد ګوهر ستائېل، د پروفېسر راز فلسفه او د دروېش حماسې، معنا دا

چې هر څۀ يې ځان کښې زم کړي دي. او ځکه خو غزل د پښتو د شاعرۍ د پلار حېثيت لري، پښتو غزل چې موږ لولو بيا دا وئيلی شو چې:

"غزل ښکلا ده، غزل ژړا ده، غزل د مظلوم د اوښکو اواز دی، غزل د جبر او ظلم په مخکښې يو نۀ نړېدونکی دېوال دی، غزل د کائنات د همه رنګينيو مجموعه ده، غزل د حق ملګری او د باطل ضد دی، غزل د انسان د حق غوښتلو لپاره يو ستر محاذ دی، غزل د هغو ټولو مسئلو که هغه معاشرتي دي، که معاشي دي، که مذهبي دي او که روايتي د حل د پاره يوه مکمله سعې ده نو به زما دا مجلس له حقيقته لرې نۀ وي"(**8**).

# حوالې


.(1) شینواري، حمزه خان، غنچک، مرتب کلیم شینواري، پاک امارات پښتو ادبي ټولنه، 2013، مخ: 173

(2) رفیع، حبیب الله، پښتو جرس غزلګنه، مدیر، طاهر اپریدی، مومند خپرندویه ټولنه، دویم چاپ، 2016, مخ: 10

(3) ختک، خوشحال خان، ارمغان خوشحال، مقدمه، سید رسول رسا، یونیورسټي بک اېجنسي پښور، دریم ځل، 2009, مخ: 398

(4) شینواري، حمزه خان، غنچک، مخ: 418

(5) شمس القمر، اندېش، پیمانه د غزل، ترتیب، خضرت زبېر زبېر، اولسي ادبي ټولنه مردان، 2015, مخ: 66

(6) راز،سلیم، شنه زرغونه مجله بنو، مدیر اعلي، منیب راحل، یولسمه ګڼه، مارچ جون 2012, مخ: 20,21

(7) مومند، قلندر،د رحمان بابا فکري مکتب،پروفېسر ډاکټر زبېر حسرت، 2013, مخ: 125

(8) ایاز، محمود، پښتو جرس غزلګنه، مخ: 226,227